محمد معصوم هوتک ۲۰۱۷/۰۹/۱۳

# د اروابناد شپون د مړيني په مناسبت

واى د عقل پاچهي د اپلاتون وه
پاچهي د سرو او سپينو د قارون وه

د ښايست تاج پر سرسوى د يوسف وو
د ليلا د عشق جوغه بيا د مجنون وه

پاچهي مو د ادب به هغه كړينه
كه ئې ژبه خره پړه د پښتون وه

چلولى چي قلم چا په پښتو وي
ما تر جار كړي كه د نن كه د پرون وه

سرغنه د نني ادب نن بار سو
په ماتم ئې قلموال سر پر زنگون وه

ډېر الفاظ مي كښته پورته كړل څو پوه سوم
په دې بيت كي ئې نېته درج د ښلتون وه

سر او پښې د"زندگۍ" كې پرې سول، بيا هم
" پاچهي د هنري نثر د شپون وه"

حل: د وروستي نيم بيتي ابجدي ارزښت (۱۴۱۳) كيږي. له دغه عدد څخه چي د (زندگۍ) سر او پښې،يعني (ز،ى = ۱۷) د " پرې سول" په قرينه منفي سي، د اروابناد شپون د مړيني كال (۱۳۹۶ش) لاس ته راځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ